د افغانستان د ازاد اوعادلانه ټولټاکنو موسسه
موسسه انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان
Free & Fair Election Forum of Afghanistan organization

FEFA

1391

# د ولسي جرګې د غړيو سره د ټاکنود خپلواک کميسيون د تشکيل، دندو او واکونو د قانون د طرحې په اړه سروي

فيفا

www.fefa.org.af

ورږی

# نوملړ

منته ........................................................................................................... 2
سریزه: ........................................................................................................... 3
د تحقیق طریقه:........................................................................................................... 4
II.څغلنده نظر: ........................................................................................................... 5
د سروي موندنې........................................................................................................... 6
د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د تشکیل،دندو او واکونو په قانون کې د اصلاحاتو اړتیا ........................... 6
د ټاکنو د اداره کوونکي نهاد اهمیت اود دغی نهاد د غړیو مصؤنیت..................................................... 7
د ټاکنودکمیسیون استقلالیت او شفافیت........................................................................... 8
د ټاکنو خپلواک کمیسیون ترکیب: ........................................................................... 10
د ټاکنو د کمسیون د رییس او د دارالانشا د رییس ټاکنه ........................................................... 12
دټاکنو په خپلواک کمیسیون کې د ولسمشر رول........................................................................... 13
د ولسی جرگی د هر یوه غړی ځواب ........................................................................... 14
پایلې: ........................................................................................................... 17
ضمایم ........................................................................................................... 19
په سروي کې د ګډونوالو نوملړ ........................................................................... 19
II ضمایم: ........................................................................................................... 21
پوښتنپانه ........................................................................................................... 21

## مننه

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسه (فيفا) له ټولو اشخاصو، بنسټونو، د نظرد خاوندانو دمدني ټولنې استازو او په ځانګړې توګه دولسي جرګې له هغه غړيوڅخه مننه کوي چې د فيفا سره يې د دغه څېړنيزراپور په بشپړولو کې مرسته او همکاری کړی ده.

د افغانستان د ازادو اوعادلانه ټاکنو موسسه (فيفا) دمدني ټولنې د يوه ارګان په حيث ديته ژمن دی چې د مدني فعاليتونو له لارې په هيواد کې د يموکراسی د پياوړتيا لپاره خپل رول ولوبه وي او دغه اوسنی څېړنه چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون دتشکيل،دندو او واکونو په اړه ترسره شوی، دولسواکی ، په افغانستان کې د ديموکراتيکو بهيرونواو د ټاکنو دخپلواک کميسيون د تشکيل،دندو او واکونو دقانون د طرحې په برخه کې ورڅخه کار اخيستل کيداې شي، د افغانستان دازادو او عادلانه ټاکنو موسسه (فيفا) د ترسره شوي تحقيق پايلې په لاندی ډول محترمو لوستونکوته وړاندي کوی.

**محترمو لوستونکو:**

که چرته په دغه راپور کې د خپرو شوو موضوعاتو په هکله کومه تبصره لری او ياهم ورباندي نقد کوی نو د مهرباني له مخې يې خپل وړانديزونه او نيوکي دافغانستان دازادو او عادلانه ټاکنو موسسي (فيفا) سره شريکي کړی ، ستاسو دغه کار به له موږ سره په هيواد کي د ديموکراسۍ په قانوني کولو کې ملګرتيا وکړی.

احمد نادر نادری
د افغانستان دازادو او عادلانه ټاکنو دموسسي عمومی رييس

## سریزه:

د ټولنې د دیموکراتیک کیدلو پروسه د جامعې له واقعیتونو سره سم  د اصلاحاتو په راوستو پوری مستلزمه ده ،په همدې هدف باید د عامه خلکو د پوهاوې کچه لوړه اودغه راز مدني ټولنې په دغه پروسه کې ورداخلیدل او ټاکنې د دیموکراسۍ له عمده برخو څخه شمیرل کیږې اوله دغه لارې خلک کولاې شي چې قدرت ته درسیدو په موخه د خپلو منتخبو اشخاصو په ټاکنه کې مهم رول ترسره کړی او د شفافه ټاکنو د ترسره کیدو لپاره اړونده ټاکنیزه اداره، باید له یوه روښانه او ځانګړي قانون څخه برخمنه وي، ترڅوټاکنیزمسایل ددغه قانون له مخې تنظیم او پرمخه بوځي.

په افغانستان کې د تیرو پارلماني او ولسمشریزو ټاکنوڅخه د فیفا تجربې ته په پام سره،دغه موضوع روښانه ده چې په دغه برخه کې یوشمیرموجوده ستونزې مستقیما د ټاکنو د کمیسیون د جوړښت او حقوقي چوکاټ سره تړاو لري.

که چرته د هیواد په ټاکنیز سیستم کې موجوده ستونزې حل نه شي نوراتلونکي ټاکنې به له سختو ننګونو سره مخ وی. په دغه برخه کې له عمده ستونزو څخه یو هم د ټاکنود خپلواک کمیسیون، د تشکیل،دندو اوواکونو د قانون نشتوالی دی اودغه موضوع تریوه حده د ټاکنو د کمیسیون حقوقي باور له پوښتنې سره مخ کړی دی.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د تشکیل،دندو او واکونود قانون طرحه په 2008م کال کې د ټاکنودخپلواک کمیسیون لخوا جوړه او بیا د تایید لپاره ولسي جرګې ته واستول شوه. ولسي جرګې په دغه طرحه کې دیولړ بدلونونو دراوستولو وروسته تصویب کړه او بیا یې ولسمشر ته واستوله او په دی دلیل چې ددې طرحې ځینې موارد د اساسي قانون سره په ټکر کې دی نو دافغانستان د ستري محکمې لخوا رد شوه اوله پامه وغورځیده.

په داسي حال کې چې دولسمشر لخوا 23 فرمان چې په 05/11/1383مه  نیټه صادر شوی وو اوس هم د اجرا وړ بلل کیږي.
پدغه فرمان کی د ټاکنود خپلواک کمیسیون د تشکیل،دندو  او واکونو ټول موارد ذکر شوی دی،دا په داسي حال کې ده چې دغه فرمان په هیڅ ډول د ټاکنو د خپلواک کمیسیون بي طرفې ، استقلالیت او مسلکیتوب نه شي تضمینولاې او دغه راز د ټاکنود کمیسیون کمیشنران ددریبو کلنو لپاره د ولسمشر لخوا ټاکل کیږې.

د همدي هدف لپاره  فیفا د مدني ټولنې او ازادو رسنیو په همکاري ولسي جرګه دیته وهڅوله چې د ټاکنو دخپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او واکنود قانون د پروسس باندی کارپیل کړی،چې یوشمیر وکیلانو په دغه برخه کې د فیفا سره ملګرتوب کړی چې بلاخره ددغه قانون طرحه دوباره د ولسي جرګې د عدلیي او قضایي په کمیسیون کې دغور او بحث لاندی ونیول شوه او دغه راز د پارلمان 18 کمیسیونونو ته د نظر اخیستو په موخه واستول شوه.
د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د بي طرفې او استقلالیت ددغه کمیسیون دتشکیل،دندو او واکونو د قانون د طرحې په تصویب سره تضمین کیدلاې شي اوهم به په  دراتلونکو ولسمشریزو ټاکنوباندی مثبت اثرات ولري.

داسي شکونه شته که چرته دټاکنود خپلواک کمیسیون استقلالیت او بي طرفي تضمین نه شي نو کیداي شي چې ددغه کمیسیون حیثیت او باور ته تاوان ورسیږي او داهم امکان لري چې په زیاته پیمانه ټاکنیزې ناندری رامنځته شي.

دیادی طرحې په اړه د مدني ټولنې او د نظر دخاوندانوسره د مشورو نه کول او په دی هکله د هغوې د مشوری نه اخیستل په دغه برخه کې له سترو نیمګړتیاو څخه شمیر کیږې،نو له دی امله فیفا دیوه افغانی نهاد په توګه له یوشمیر حقوق پوهانو،دعلومو او اکاډیمی له غړیواو د پوهنتون د استادانو په همکاري، د ټاکنود کمیسیون د تشکیل،دندو او واکونو د قانون د طرحې په اړه خپله پیشنهادې طرحه ترتیب کړی او هغه یې په ولسي جرګه کې اړونده کمیسیون ته سپارلی ده.

دفیفا لخوا د ترسره شوي سروې موخه داده چې د ټاکنود خپلواک کمیسیون دتشکیل،دندو او واکونود قانون د طرحې په اړه ولس له بیلا بیلو نظریاتو او څرګندونو څخه خبرشي او دغه راز د پوهه کسانو افکاردقانون په دغه طرحه کې ځاي پرځاي شي. نو په همدی دلیل له یو پلوه د قانوني خلا ډکول او له بل پلوه دټاکنو د قانون په طرحه کې د اصلاحاتو راوستل دی.

دغه راز ددغه سروې له موخو څخه داهم ده چې د ټاکنود کمیسیون د تشکیل،دندو او واکونود قانون د طرحې په هکله د ولسي جرګې دغړیو، د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون، د مدني ټولنې استازی، او د پوهه او تجربه لرونکو کسانو نظریات راټول کړی.
په همدی ترتیب،له اړوندو چاراوکو سره ملګرتوب او همکاری کول، ترڅو په دغه برخه کې موجوده ستونزو ته د حل مناسب لاره پیدا شي.

په اساسي توګه دغه سروې د ټاکنو د کمیسیون د تشکیل،دندو او واکونو دقانون د طرحې په هکله تمرکز کوي، اول هغه کسانو سره مرکې شوی چې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه په دغه پروسه کې شامل دی، نوله دی امله هڅه شوی چې له مسلکي، د تجربه لرونکو او جنډر ته په پام سره له یوشمیر کسانو سره مرکې وشی او په دی برخه کې دموجوده ستونزو د حل په موخه ددوې نظریات راټول شی.

## د تحقیق طریقه:

د ورستیو ټاکنو څخه د تجربواو د فیفا لخوا د څیړنیزو پروګرامونو د ترسره کولو پراساس، فیفا دغه سروې کې له میداني لاربښوونو څخه کار اخیستی(د پوښتنلیک ترتیبول او مخامخ مرکه کول) په لومړی سرکې دهغه کسانو نوملړ ترتیب شو، چې مرکې به ورسره وشي او ددغه کسانو انتخاب د یوه ځانګړي میکانیزم له مخې ترسره شو. په دغه سروې کې دولسي جرګې له 36 وکیلانو سره د موقف ، سیمې ، جنډراو سیاسي لید لوري پراساس مرکې ترسره شوی ده .

د سروې له پیل څخه مخکې د فیفا د سروې ګروپ د مدني ټولنې له دوه تنو او د افغانستان د بشری حقونو له دوه تنوغړیو سره په امتحاني ډول مرکې ترسره کړی او له دغه مرکو څخه هدف داوو ترڅو فیفا مطمینه شي چې آیا د پوښتنلیک سوالونه معیاري او د فهم وړ دی او کنه؟

له دغه کار وروسته بیا د ټاکنود کمیسیون د تشکیل،دندو او واکونو د قانون په اړه دقیقه او هر اړخیزه مطالعه ترسره شوه او بیا د فیفا موسسې یو معیاري پوښتنلیک ترتیب کړ اوپه دغه برخه کې یې د ولسي جرګې د عدلیې او قضایي کمیسیون له پیشنهادي طرحې څخه هم تریوه حده استفاده کړی ده.

د فیفا د راپور ګروپ د نظارت د ګروپ په همکاري او د فیفا د اجراییوي رییس په مشوره د پوښتنلیک متن بشپړشواو په بیلا بیلو کټګوریو وویشل شو، دیادولو وړ ده چې د پوښتنو لپاره له وړاندي څخه یو ځانګړي فارمټ جوړ شوی وو او په هم هغه فارمټ کې دغه پوښتنې ځاي پرځای شوی.

په وروستي مرحله کې بیا د فیفا د نظارت ګروپ په دوه کسانو تقسیم شول ترڅو له پخوا څخه په نښه شویو کسانو سره مرکې ترسره کړی،که څه هم د فیفا مرکچیانو ته لنډمهال ټریننګ هم ورکړل شوی وو او په دغه برخه کی یی له پوښتنو او د سروې له موخو سره بشپړه اشنایي پیدا کړی.
په همدغه منظورد فیفا لخوا یو مشخص دیتابیس هم جوړ شوی ترڅو له مرکو څخه وروسته د سروې لاسته راوړني پکې ځاي کړي، د سروې څخه لاس ته راغلی معلومات د فیفا د تحلیګرانو لخوا په هراړخیز ډول څیړل شوی او ددغه راپور په شکل کې تیار کړی دی.

دیادولو ده، چې د 36 هغه وکیلانو له ډلي څخه یوشمیر یې نه غوښتل چې دبیلا بیلو دلایلو له امله ځینو پوښتنو ته ځواب ووایي، خو دغه موضوع په هیڅ ډول سره په سروې باندي منفي تاثیرات نه شي کولای.

## II.ځغلنده نظر:

د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون په 2001م کال کې تاسیس شوی او تراوسه پورې یې په هیواد کې له ځلورځله ټاکنې ترسره کړې دي.دغه ارګان تراوسه پورې د ولسمشر د 23 فرمان چې 1383/11/5 نېټه صادر شوی خپل فعالیت کوي، په دغه فرمان کې د ټاکنود کمیسیون د استقلالیت او مسلکیتوب لپاره لازم تضمینات شتون نلري، په عین حال کې کوم موثر او مشخص قانون وجود نه لري چې ترمخه یې د ټاکنو دکمیسیون تشکیل، دندې او واکونه مشخص کړي. البته دغه طرحه اوسمهال په ولسي جرګه کې د بحث لاندې ده ترڅو دغه خالیګاوې یې ډکې شي.

فیفا په دغه سروې کې په ولسي جرګه کې دخلکو د استازو د افکارو او نظریاتو د راټولولو په موخه ترسره کړې ده، ترڅو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د تشکیل،دندو او واکونو د قانون طرحه پیاوړې شي،یاده طرحه اوس په ولسي جرګه کې د بحث لاندې ده،دغه رازد دې سروې یوبل هدف دا هم دی چې دټاکنو دخپلواک کمیسیون اړونده موضوعاتو ته د مدني ټولنې او سیاسي ګوندونو پام راړول شي، ترڅو کمیسیون خبر او د اړونده چارو په اړه تصمیم ونیول شي.

په دغه پوښتنلیک 27پوښتنې ذکر شوې چې په لاندنیو 6 ټکو باندې تمرکز کوي:

تشکیل، استقلالیت، شفافیت، مصونیت، دندې او د ټاکنو په کمیسیون کې دولسمشر رول.ددې سروې د هرې کټګورې پوښتنو په هکله د وکیلانو څرګندونې هغه څه دي چې باید په نوې قانون کې په پام کې ونیول شي. په عین حال کې د وکیلانو ترمنځ په ځینو مواردو کې موافقت او په ځینو نورو کې سره بیا مخالفت موجود وو، چې دغه موضوع د زیات بحث او پوهاوې باعث دی.

د ټاکنو د کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو د قانون په اړه د فیفا لخوا ترسره شوې سروې ددې څرګندونه کوي، باید چې کمیسیون ته دې هراړخیزه اجراییوي تضمینات ورکړل شي ترڅو د ټاکنو په کمیسیون کې بې طرفي ، شفافیت او استقلالیت تضمین شي.

دغه راز له دې سروې څخه لاس ته راغلي معلومات په ډاګه کوي چې د ټاکنو د کمیسیون د تشکیل،دندو او واکونو هغه طرحه چې اوسمهال په ولسي جرګه کې د بحث او غور لاندې ده په ځینو مواردو کې تعدیل او بدلون ته اړتیا لري، هغه کسان چې مرکې ورسره شوې په خپلو څرګندونو کې یې ویلي دي چې د یوه هر اړخیز قانون رامنځته کیدو سره د ټاکنو د کمیسیون بې طرفي، او مسلکیتوب تامینداې شي. د ټاکنو خپلواک او مسلکي کمیسیون ددیموکراتیکو ارزښتونوضامن دی، او کولای شي چې داسې هر اړخیزشفافیت رامنځته کړي چې له سرغړونو څخه پاک وي،

د ټاکنو دخپلواک کمیسیون د غړیو د ټاکنو طرز العمل هم ددغه کمیسیون استقلالیت تضمینولی شي. زیاتره هغه کسان چې مرکې ورسره شوې دې په دیې تاکید کړې چې د ټاکنو د کمیسیون غړي دې د مدني ټولنې له خوا ولسمشر ته معرفي شي او د جنډر په رعایت کولو سره دې بیا ددغه کسانو ترمنځ غوره او وړ کسان په ګوته شي او هرکله چې ولسمشر یو څوک د ټاکنو د کمیسیون دغړې په توګه غوره کړي نو بیادې دباور درایې اخیستلو لپاره ولسي جرګې ته ورمعرفي کړي.

هغه کسان چې مرکې ورسره شوې په دغه برخه کې د مدني ټولنې او په ځانګړې توګه د فیفا دموسسې رول مهم بولي او په خاص ډول د ټاکنو د مشاهدې په برخه کې د فیفا د رول په زیاتوالي یې ټینګار کړی دی.

همداراز دغه کسانو ویلي دي، چې د پرمختللیو هیوادونو تجربې څرګندوي چې په دیموکراتیکه پروسو او په ځانګړې توګه د ټاکنو په بهیر کې د مدني ټولنې رول د شفافیت په رامنځته کولو کې مهم رول لري. نو لازمه ده چې دمدني ټولنې درول لپاره زمینه سازي وشي او د حکومت او مدني ټولنې ترمنځ همکاریو ته لازیاته لاره هواره شي.

## د سروې موندنې

### د ټاکنو د خپلواک کميسيون د تشکيل،دندو او واکونو په قانون کې د اصلاحاتو اړتيا

د ټاکنو خپلواک کميسيون په هيواد کې دهرډول ټاکنو د ترسره کيدو او اداره کيدو مسووليت پرغاړه لري، اوله کومه وخته چې دغه کميسيون تاسيس شوی دی تر دی مهاله د ولسمشر ديوه فرمان پراساس خپل فعاليت ترسره کوی، که څه هم په دی وروستيو وختونو کې يی د ټاکنو خپلواک کميسيون د تشکيل، دندو او واکونو د قانون مسوده ولسي جرګې ته استولې ده او اوسمهال په ولسي جرګه کې د بحث او غور لاندی ده.

د مرکه کوونکو زياته برخه (86) سلنه کسانو چې دقانون له دغه طرحې څخه خبردی په دغه پيمانه خبراوی ددی څرګندونه کوي چې زياتره وکيلان ددی پلويان دی چې د ټاکنو اداره کوونکو بنسټونو ته دی يو ځانګړی قانون جوړ شي.




درې په څلور ځواب ورکوونکي يا (24) سلنه دولسي جرګې هغه غړی چې مرکې ورسره شوی، په دی باور دی ، چې د ټاکنو د کميسيون د تشکيل،دندو او واکونو قانون دی اصلاح شي. ددغه حمايت کوونکي د دلې څخه 8 تنو وکيلانو په ټاکيد سره په دغه قانون کې پراصلاحاتو ټينګار کړی دی. ځينو نورو بيا د داسې اصلاحاتو پلوې کوله چې دولسمشر لخوا بيا رد نه شي، يعني ولسمشر ته هم د منلو وړ وی.

دغه راز د مرکه کوونکو (94) سلنه کسان په دی باور وو، چې د ټاکنو دکميسيون اړونده چارې دی د يوه جلا قانون له لارې تنظيم شي، يواځې 6سلنه بيا په داسې يو فرمان باور لري چې ترمخه يې د ټاکنو د کميسيون چارې تنظيم شي ، خو بيا د وکيلانو غوڅ اکثريت (91.4) سلنه کسانو بيا څرګنده کړی که چرته د ټاکنيزو سياليو پرمهال د ټاکنو په طرز العملونو او پروسيجرونو کې بدلون راوستل شي نو ددی زيات امکان شته چې ناوړه ګټه ورڅخه واخيستل شي، خوبيا په لړه پيمانه وکيلان (80.6) سلنه مخالفت کوی او دغه مفکوره رده وی.

## د ټاکنو د اداره کوونکي نهاد اهمیت اود دغی نهاد د غړیو مصؤنیت

د افغانستان د اساسي قانون په رڼا کې د ټاکنوخپلواک کمیسیون دنده لري چې په هیواد کې هر ډول ټاکنې ترسره او اداره کړی. دغه ارګان د ټاکنو په پروسه کې دنوم لیکنې له پیل څخه د پایلو تر وروستي اعلان پوری ددغه ټول بهیر مسوولیت په غاړه لري. اودغه راز د ټاکنو دکمیسیون دغړیو د قضایي مصونیت موضوع په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د کمیسیون پرچارو تاثیرات لری.

ټول هغه کسان چې مرکې ورسره شوی دی، په دی باور دی چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ازادو او عادلانه ټاکنو په ترسره کولو کې ډیر زیات مهم رول لری، ددغه کسانو له جملې څخه (81.8) سلنه کسان په دغه برخه کې دټاکنو دکمیسیون رول زیات مهم بللی دی. او (81.2) سلنه نورو بیا له دغه نظریې سره موافق نه وو او یواځی ی په دغه برخه کې دکمیسیون رول مهم بولی.







د پارلمان هغه غړی چې مرکې ورسره شوی زیاتره یې (61.30 ) سلنه یې په دی باور دی چې د ټاکنو دکمیسیون غړی دی له قضایي او عدلیې تعقیب څخه مصون وي.او تقریبا یو پر پنځمه برخه (19.4) سلنه بیا ددغه موضوع د مهمتیا احساس کوی او په لږ شمیر کې وکیلان (6.5) سلنه په دی باور دی چې د ټاکنو دکمیسیون غړو لپاره قضایي مصونیت ډیر هم دی او دیو پر لسو دیوه وکیل څخه زیات مصونیت یې پکار دی. او پاتی نورو (9.12) کسانو بیا د کمیسیون دغړیو لپاره قضایی مصونیت مهم نه دی بللی.

## د ټاکنودکمیسیون استقلالیت او شفافیت

دیوې ادارې شفافیت او خپلواکی د څواب ورکونې له اصل سره مستلزمه ده،د مترقي هیوادونو تجربو ښودلې ده چې شفاافه او خپلواکه ارګانونه خپله اړونده کارونه په ښه توګه ترسره کوی او دخلکو او حکومت پروړاندی ځواب ورکوونکي وی. لکه څرنګه چې مورږ پوهیږو ټاکني د دیموکراسی له مهمو ارزښتونو څخه دی او په دی منظور ډیره مهمه ده چې دیموکراتیک هیوادونه دی شفافه او خپلواکه اداري ولري.
سروي څرګنده کړی چې د پام وړ ځواب ورکوونکو (94.6) سلنه داپه ګوته کړی، چې د ټاکنو دکمیسیون د رییس انتخاب په دغه کمیسیون پر خپلواکی باندی مستقیم اثرات لري، نو په همدی دلیل ددغه کمیسیون رییس باید دیوه داسي کمیسیون له لاري وټاکل شي چې د کمیسیون استقلالیت ورسره تضمین شي.
مرکه کوونکي په دی باور دی چې د ټاکنو د کمیسیون رییس باید بي طرفه او غیر سیاسي شخص وي، ځکه چې نوموړی د ټاکنو په اداره کولو او نظارت کې مهم رول لري، په عین حال کې (87.5) سلنه ځواب ورکوونکو احساس کړی چې د ټاکنو د کمیسیون استقلالیت د ټاکنو دیوه مهم اصل څخه شمیرل کیږي،نو پکارده چې د ټاکنو نوی قانون کې دی داسي جوړشي چې ترمخه یې د ټاکنو د کمیسیون کمیشنران د سیاسي ارګانونو له لاس وهنې څخه خوندي پاتی شی ترڅو خپل کارونه په بي پلوۍ سره ترسره کړی.




یوشمیر (9.7) سلنه کسانو د ځواب پرمهال ویلي دی چې د ټاکنو د کمیسیون د کمیشنرانو بي طرفي ډیره زیاته مهمه ده. نو اړینه ده چې په پام کې ونیول شي ترڅو د ټاکنو د کمیسیون د رییس په توګه یو بي طرفه شخص د په دنده وګمارل شي.
د کمیشنرانو د خپلواکی او بي طرفي ترڅنګ د ټاکنو په برخه کې تجربه هم له کلیدي موفقیتونو څخه ګڼل کیږي. نو له دی امله پکار ده چې په دغه اداره کې مسلکي کسان په دندو وګمارل شي ترڅو خپل کارونه په بریالیتوب سره ترسره کړی. یو شمیر د پام وړ کسانو (25) سلنه بیا وایي چې د ټاکنو د کمیسیون د کمیشنرانو تجربه ډیره زیاته مهمه ده او پکارده چې تجربه لرونکي اشخاص په دغه پوست کې مقرر شي، او یوازې یو وکیل ویلي دي چې د کمیشنرانو لپاره تجربه ډیره مهمه نه ده.

دغه راز هیڅ یو وکیل نه دی ویلي چې د کمیشنرۍ د پوست لپاره تجربه مهمه نه ده.

د بل پلوه ورسره د ټاکنو د کمیسیون په چارو کي شفافیت باید تضمین شي. خلک ددې حق لرى چې په دغه برخه معلوماتو ته لاس رسی پیدا او په ځانګړى توګه انتخاباتو په اړه د کمیسیون له پریکړو څخه خبراوسى، ځکه چي دغه کارپرټاکنیزو نهادونو باندى د خلکو او سیاسي ګوندونو د باور کچه لوړه وى.




دغه راز زیات شمیر وکیلانو (82.9) سلنه له دغه کار سره موافق وو، چي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون جلسي دى په ډاګیزه توګه ترسره او د رسنیو له لیارى دى عام ولس له خپلو فعالیتونو څخه خبر کړى، په عین حال کي په لږه شمیره کي مرکه کوونکو بیا ددغه کار سره سخت مخالفت څرګند کړى او تاکید یې کړى چې د ټاکنو د کمیسیون جلسي دى په علني توګه نه ترسره کیږي، ځکه چي ددې امکان شته چې په دغه غونډو کي پټ او مهم موضوعات مطرح شي.




آیا د ټاکنیزو پروسو پر مهال د ټاکنو په طرزالعمل او لوایحو کی بدلون د ناوړه ګټی اخیستنی لامل کیدای شی




آیا لازمه ده چی د کمیسیون جلسی په علنی توګه ترسره شی تر څو مدنی ټولنی، سیاسی ګوندونه او عام خلک ورته لاسرسی ولری

## د ټاکنو خپلواک کمیسیون ترکیب:

د ټاکنود کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو د قانون د مسودې مطابق، دغه کمیسیون په اوسمهال له 7 تنو کمیشنرانو څخه جوړ دی، چې له دغه جملې څخه یوتن د رییس او بل دمرستیال په توګه ټاکل کیږي.
د ولسمشر د تقنیني فرمان پراساس کمیشنران مستقیما د ولسمشر لخوا د 3 کلنو لپاره ټاکل کیږي.

دمدني ټولني او اړونده ارګانونو درول د پیاوړتیا لپاره پکارده چې په دغه طرحه کې اصلاحات رامنځته شي ، له یو پلوه دی د ټاکنو په کمیسیون کې بدلون راوستل شي او له بل پلوه دی د ټاکنو د کمیسیون د غړو د ټاکنو لپاره یوه ځانګړي پروسه رامنځته شي.




په نسبي ډول زیاتو مرکه کوونکو (38.9) سلنه په دی باور دی چې دټاکنو د کمیسیون دی د مدني ټولني او علمي نهادنو له اعضاو څخه جوړل شي.دغه راز په لسو کي یوتن (11.1) سلنه بیا د ټاکنو د کمیسیون په ترکیب کې د دولتي مقاماتو او مدني ټولنې د استازو له ګډون څخه حمایت کړی دی. خو بیا (2.8) سلنه کسان د سیاسي ګوندونو له استازو څخه د ټاکنو د کمیسیون ترکیب غوره بولي.په دغه برخه کې په زیاتره مرکه کوونکو په خپلو څرګندونو کې د ټاکنو د کمیسیون په ترکیب کې د مدني ټولنې ، سیاسي ګوندونو او دولتي استازو پرګډون ټینګار کړی دی، او په همدی ترتیب سره د مرکه کوونکو نیمه برخه بیا په پورته دریواړو مواردو کې دکمیسیون له ترکیب څخه حمایت او ملاتړ کوی.
دولسي جرګي غړو د ټاکنود کمیسیون د کمیشنرانو لپاره د ټاکنو د کمیسیون د تشکیل،دندو او واکونو په نوی قانون کې د سختو شرایطو د وضعه کیدو غوښتنه کړی ده،او ددی ترڅنګ (72.5) سلنه نوربیا د کمشنرانو لپاره د لوړو زده کړو شرط هم مهم ګڼلی او دغه رازیې ویلي دی چې کافی تجربه ،نیک شهرت به لري اود سیاسي ګوندونو سره به تړاو نه لري، دیو پر لسو مرکه کوونکو (12.5) سلنه بیا ویلی دی چې کمیشنران دی لوړی زده کړی ولری او (15) سلنه نورو بیا په دغه برخه کې له نیک شهرت څخه حمایت کوی.
وکیل هم له دی سره موافق نه وو، چې یوازې به په سیاسي ګوندونو کې غړیتوب نه لري له دغه پوست لپاره د شرط په توګه وټاکي، د ټاکنو د کمیسیون د تشکیل،دندو او واکونو د قانون نوې طرحه کې دی داسې څه ځای پرځای شي چې ترمخه یې د کمیشنرانو د ټاکني موضوع هم باید تنظیم کړی.

تقریبا دمرکه کوونکو نیمه برخه (44.4) سلنه بیا ددی احساس کړی چې د کمیشنرانو د ټاکلو کمیټه دی د مدني ټولنې او سیاسي ګوندون څخه جوړه شي. دیوه په څلورو څخه زیاتو (27.7) بیا فکر کوي چې دغه کمیټه دی د

ملي شورا د مشرانو ، قاضی القضات، د افغانستان د بشری حقونو دخپلواک کمیسیون ، د اساسي قانون د تطبیق د څار کمیسیون او د ښځو چارو له وزیر څخه جوړه شي.په لړه پیمانه مرکه کوونکو (16.6) سلنه بیا دپورته ذکر شویو ادارو برسیره په دغه برخه کې د سیاسي ګوندونو رول هم مهم بللی دی.




د ټاکنود کمیسیون د کمیشنرانو د پست لپاره کاندید کسان دی د اړونده ارګانونوڅخه د تقررکمیټې ته معرفي کړاي شي،په دغه برخه کې فیفا د ولسي جرګې له غړیو څخه نظر پوښتنه کړی ده ، که څه هم په دغه پوست ته دکاندانو په اړه د شوی پوښتنی په ځواب کې (38.8) سلنه کسانو بیا د27 نفري کیمټي حمایت کړی او دایې غوره ګڼلي چې دغه کسان د کمیشنری د پوست لپاره رقابت وکړی. دیادولو ده ، چې یو پر دری وکیلان (30.5) سلنه بیا د غه پوست ته د 100 کسانو ترمنځ رقابت غوره بولی او یو پر پنځمه (25) سلنه کسانو بیا وړاندیز کړی چې په دغه برخه کې دی 40 تنو ته د رقابت فرصت برابر شي .

## د ټاکنو د کمسیون د رییس او د دارالانشا د رییس ټاکنه

د ټاکنود خپلواک کمیسیون رییس دغوندوپه ترسره کولو،د فعالیتون په رهبری ، په پریکړو ، د حساسو او عاجلو موضوعاتو کې مهم او کلیدی رول لری. د کمیسیون په چارو کې د اجراییه قوي دلاسوهني دمخنیوي په موخه باید دکمیسیون رییس او مرستیال داسي وټاکل شي چې ترمخه يې د کمیسیون استقلالیت او بي طرفي وساتل شي. دولسي جرګې غړیو د ټاکنو د کمیسیون د رییس او مرستیال دټاکلو په اړه سره متفاوت نظرونه درولودل.
شاوخوا د نیمو وکیلانو په شمیر کې (47.2) سلنه په دی اند وو، چې د ټاکنو دکمیسیون رییس او مرستیال دی د ټاکنودکمیسیون د غړیو لخوا انتخاب شی.دا په داسي حال کې ده چې دوکیلانو یو په څلورمه برخه (27.8) سلنه بیا وایي چې د ټاکنو دکمیسیون د رییس ټاکنه دی دولسمشرد صلاحیت څخه وګرځول شي او پاتي نور پوستونه دی د کمیسیون د غړیو لخوا په خپلو منځوکې سره وویشل شي، پاتي (13.9) سلنه بیا وایي چې د ټاکنو دکمیسیون د څوکیو ویش دی په مستقیما توګه دولسمشر لخوا ترسره شي.




د ټاکنو دکمیسیون رییس له دندی څخه د ګوښه کیدو په اړه وکیلان د تیر په څیر متفاوت نظریات لری. هغه وکیلان چې په دې سروې کې ورسره مرکې شوی دی (69.4) سلنه يې په دی باور دی چې پ دغه برخه کې دی ټول صلاحیت د ټاکنو د کمیسیون غړیو ته ورکړل شي. خو بیا یو پرېنځمه برخه وکیلان 22.2سلنه وایي چې د ټاکنو د کمیسیون د وړاندیز څخه وروسته دی د کمیسیون د غړیو په ټاکنه کې عام تام صلاحیت ولسمشر ته ورکړل شي.
دمرکو په لړ کې یوتن وکیل ویلي دی چې د ټاکنو دکمیسیون د رییس ګوښه کیدل دی دولسمشر له واکونو څخه وګرځول شي، دده په



خبره د دارالانشا څوکی د کمیسیون د عملیاتي برخي یوه مهمه څوکی ده نو پکارده چي د ټاکنو دکمیسیون دتشکیل ،دندو او واکونو په قانون کي ورته خاص قواعد ذکر شي.
دارالانشاد کمیسیون اجراییوی برخه ده، او کله چي کمیشنران نه وي د ټاکنو زیاتره تخینکي مسایل دهغي په غاړه وی. یو شمیر د پام وړ وکیلانو (44.1) سلنه بیا په خپلو خبرو کي ویلی دی چي د دارالانشا رییس دی د هیواد د ملکي خدماتو د کارکوونکو د قانون ترمخه وټاکل شي.

په نسبي اکثریت سره (38.2) وکیلانو بیا ویلي دی چي د دارلانشا رییس دی دولسمشر لخوا وټاکل شي، البته د کمیسیون په وړانديز. دیادولوده چي دیوه کم لسو وکیلانو څخه (88.8) سلنه بیا په دی موافق دی چي دولسمشر لخوا دی وټاکل شی، هغه پایلي چي د درالانشا د رییس دټاکو په برخه کي په لاس راغلی دی، دعزل په اړه یي هم ورته نتایج (8.8) سلنه ترلاسه شوی دی.

## دټاکنو په خپلواک کمیسیون کي د ولسمشر رول

د ټاکنو په کمیسیون کي دولسمشر رول د وکیلانو ترمنځ په یوه جنجالي موضوع بدل شوی دی. زیاتره وکیلان په دغه کمیسیون کي دولسمشر د رول پلوي کوي، خو یو شمیر نور بیا د ټاکنو په کمیسیون کي د ولسمشر درول سره مخالفت څرګنده وي.

تیر کال ولسي جرګي د ټاکنو دخپلواک کمیسیون د تشکیل،دندو او واکونو قانون تصویب کړ او د توشیح لپاره یي ولسمشر ته واستولو، خو ولسمشر په دغه قانون کي ځیني موارد له اساسي قانون سره په ټکر کي وبلل او همدا لامل وو چي دغه قانون د نوموړی لخوا رد شو.داسي معلومیږي چي دولسمشر له دغه کار سره وکیلان موافق نه وو، او کله چي له وکیلانو څخه دولسمشر ددغه عمل په اړه پوښتنه وشوه نو (63.4) سلنه وکیلانو ددغه کار سره مخالفت وښود. دیوي قانوني طرحي تصویب، له ستونزمنو موضوعاتو څخه ګڼل کیږي، او تصویب یي زیات وخت ته اړیتا لري اودیوي جامعي او ګټوري طرحه زیاتي وړتیا او دقت ته ضرورت لري.

د ټاکنود کمیسیون د چارو په تنظیم کي دولسمشر درول په اړه یو پردریمه برخه هغه وکیلان چي مرکي ورسره شوی، 36.1 سلنه، چي د ټاکنو کمیسیون د درالانشا د پوست لپاره یوتن ولسمشر ته معرفي کړی او د ولسمشر په منظوری دی په دنده وګمارل شي. داپه داسي حال کي ده چي د مرکه کوونکو لږه برخه (8.3) سلنه بیا وایي چي د دارلانشا رییس دی مستقیما د ولسمشر لخوا وټاکل شي، خو (25) سلنه څخه زیات وکیلان بیا وایي، کله چي د کمیسیون رییس په خپله دنده کي غفلت وکړی او یاهم ناتوانه وی نو دکمیسیون د وړاندیز پراساس باید ولسمشر لخوا له دندی ګوښه کړای شي، که څه هم په لږ شمیر کي وکیلان (2.8) سلنه بیا په دی باور دی چي ددارالانشا رییس دی مستقیما د ولسمشرلخوا له دندی ګوښه شي، دغه موضوع ددی څرګندونه کوی چي د ولسي جرګي غړی له ولسمشر څخه غواړی چي دټاکنو د کمیسیون په چارو ،تعین او عزل کي دی جزی صلاحیت ولري او په دغه برخه کي دی زیات رول پارلمان ته ورکړل شي.



## د ولسی جرگې د هر یوه غړی ځواب

| شمیره | هغه کسان چې مرکې ورسره شوی دی | دنده | ولایت | ایا د ټاکنود کمیسیون قانون باید اصلاح شی؟ | څنګه کیداي شي چې د ټاکنو د کمیسیون خپلواکی پیاوړی شي؟ | د ټاکنود کمیسیون درییس او دادارالانشا د رییس ټاکنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | حمیده اکبری | د مالیې او بودجې دکمیسیون غړې | میدان وردک | هو | دقوانینود اصلاح په موخه پلټنې او تالاش | د کمیسیون دغړو په وړاندیز او د ولسمشر په منظوری |
| 2 | اسدالله سعادتی | دولسې جرګې غړی | دایکندی | هو | بیلا بیلې لارې چارې | د کمیسیون دغړو په وړاندیز او د ولسمشر په منظوری |
| 3 | عبدالحفیظ منصور | د ولسی جرگی دمرکزی پلټنی دکمیسیون رییس | کابل | نه | بیلا بیلې لارې چارې | د کمیسیون دغړو په وړاندیز او د ولسمشر په منظوری |
| 4 | شینکی ذهین کروخیل | دولسي جرگی د مالی او بودجی د کمیسیون غړی | کابل | هو | دقوانینود اصلاح په موخه پلټنې او تالاش | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 5 | حاجی محمد عبده | د ولسی جرگی د عدلی او قضایي چارو د کمیسیون منشی | بلخ | هو | دقوانینود اصلاح په موخه پلټنې او تالاش | د کمیسیون دغړو په وړاندیز او د ولسمشر په منظوری |
| 6 | نسیمه نیازی | د ولسی جرگی د مواصلاتو او مخابراتو د کمیسیون غړی | هلمند | هو | بیلا بیلې لارې چارې | ولسمشر |
| 7 | عرفان الله عرفان | دولسي جرگی د مواصلاتو او مخابراتو د کمیسیون غړی | کابل | هو | بیلا بیلې لارې چارې | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 8 | سید علی کاظمی | دولسي جرگی د نړیوالو چارو د کمیسیون غړی | کابل | هو | بیلا بیلې لارې چارې | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 9 | حمیرا ایوبی | دولسي جرگی د پوهنی لوړو زده کړو دینی او فرهنگی چارو د کمیسیون غړی | فراه | هو | د غونډو نظارت | د کمیسیون دغړو په وړاندیز او د ولسمشر په منظوری |
| 10 | سیدحسین عالمی بلخی | دولسي جرگی د معلولینو او معیبینو د کمیسیون رییس | کابل | هو | د غونډو نظارت | ولسمشر |
| 11 | شیخ نعمت الله غفاری | دولسي جرگی دویم مرستیال | هلمند | هو | بیلا بیلې لارې چارې | د کمیسیون دغړو په وړاندیز او د ولسمشر په منظوری |
| 12 | محمد علی اخلاقی | دولسي جرگی د پوهنی لوړو زده کړو فرهنگی او دینی چارو کمیسیون غړی | غزنی | هو | بیلا بیلې لارې چارې | د کمیسیون دغړو په وړاندیز او د ولسمشر په منظوری |
| 13 | سید محمد حسن شریفی بلخابی | دولسي جرگی د عدلی او قضایی چارو د کمیسیون غړی | سرپل | هو | بیلا بیلې لارې چارې | د کمیسیون دغړو په وړاندیز او د ولسمشر په منظوری |
| 14 | کبری مصطفوی | دولسي جرگی د معلولینو او معیبینو | کابل | هو | دقوانینود اصلاح په موخه | دملکي خدماتو دقانون پراساس |

| شمېره | هغه کسان چي مرکي ورسره شوی دی | دنده | ولایت | ایا د ټاکنود کمیسیون قانون باید اصلاح شي؟ | څنګه کیداې شي چي د ټاکنو د کمیسیون خپلواکی پیاوړی شي؟ | د ټاکنود کمیسیون درییس او ددارالانشا د رییس ټاکنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | کمیسیون غړي | | | پلټني او تالاش | |
| 15 | ناجیه بابکرخیل | دولسي جرګي د پوهنی لوړو زده کړو فرهنګی او دینی چارو کمیسیون غړي | پکتیکا | بی ځواب | دقوانینود اصلاح په موخه پلټني او تالاش | د کمیسیون دغړو په وړانديز او د ولسمشر په منظوری |
| 16 | شاه ګل رضایی | دولسي جرګي د نشه یی توکو مسکراتو او اخلاقی فساد پر ضد د مبارزی کمیسیون غړي | غزنی | هو | دقوانینود اصلاح په موخه پلټني او تالاش | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 17 | قیس حسن | د ولسی جرګی د مواصلاتو او مخابراتو د کمیسیون رییس | کابل | هو | دقوانینود اصلاح په موخه پلټني او تالاش | د کمیسیون دغړو په وړانديز او د ولسمشر په منظوری |
| 18 | احمد بهزاد | دولسي جرګي د تقنیني چارو د کمیسیون غړی | هرات | هو | دکمیسیون پوهاوی | بی ځواب |
| 19 | فریدون مهمند | دولسي جرګي د وکیلانو د خوندیتوب حقونو او امتیازاتو د کمیسیون غړی | ننګرهار | هو | د کمیسیون پوهاوی | د کمیسیون دغړو په وړانديز او د ولسمشر په منظوری |
| 20 | چمن شاه اعتمادی | دولسي جرګي د نشه یی توکو مسکراتو او اخلاقی فساد پر ضد د مبارزی کمیسیون غړی | غزنی | هو | بیلا بیلي لارې چارې | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 21 | صالح محمد صالح | دولسي جرګي د کورنیو چارو او ملی امنیت د کمیسیون مرستیال | کنر | هو | بیلا بیلي لارې چارې | د کمیسیون دغړو په وړانديز او د ولسمشر په منظوری |
| 22 | قاضی نذیر احمد حنفی | د ولسی جرګی تقنینی چارو د کمیسیون رییس | هرات | نه | دقوانینود اصلاح په موخه پلټني او تالاش | د کمیسیون دغړو په وړانديز او د ولسمشر په منظوری |
| 23 | داکتر نیلوفر ابراهیمی | دولسي جرګي د صحت ځوانانو کار او کارګر د کمیسیون غړي | بدخشان | هو | بیلا بیلي لارې چارې | |
| 24 | حاجی غلام سرور فایز | د ولسی جرګی د ښځو چارو مدنی ټولنی او د بشر حقونو د کمیسیون غړي | بادغیس | هو | دکمیسیون د فعالیتونو نظارت | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 25 | فوزیه ناصریار | دولسي جرګي د ملی اقتصاد د کمیسیون غړي | کابل | هو | بیلا بیلي لارې چارې | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 26 | حاجی سخی مشوانی | دولسي جرګي د کورنیو چارو او ملی امنیت د کمیسیون غړی | کنر | بي ځواب | دکمیسیون پوهاوی | د کمیسیون دغړو په وړانديز او د ولسمشر په منظوری |
| 27 | استاد ربابه پروانی | دولسي جرګي ښځو چارو مدنی ټولنی | کابل | بي ځواب | بیلا بیلي لارې چارې | دملکي خدماتو دقانون پراساس |

| شمیره | هغه کسان چي مرکي ورسره شوي دي | دنده | ولايت | ايا د ټاکنود کميسيون قانون بايد اصلاح شي؟ | څنګه کيداې شي چي د ټاکنو د کميسيون خپلواکي پياوړي شي؟ | د ټاکنود کميسيون درييس او ددارالانشا د رييس ټاکنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | او د بشر حقونو د کميسيون غړي | | | | |
| 28 | ځارنوال عبدالرووف | دولسي جرګي د عدلی او قضايی چارو د کميسيون غړی | بدخشان | هو | دقوانينود اصلاح په موخه پلټني او تالاش | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 29 | نعيم لالی حميدزی | دولسي جرګي د کورنيو چارو او ملی امنيت د کميسيون غړی | کندهار | هو | بيلا بيلي لارې چارې | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 30 | حاجی محمد فرهاد صديقی | دولسي جرګي د مواصلاتو او مخابراتو د کميسيون غړی | کابل | هو | دقوانينود اصلاح په موخه پلټني او تالاش | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 31 | حاجی محمد نظير احمدزی | دولسي جرګي د کوچيانو قبايلو کډوالو او بيځايه شويو د کميسيون غړی | کوچی | هو | دقوانينود اصلاح په موخه پلټني او تالاش | د کميسيون دغړو په وړانديز او د ولسمشر په منظوری |
| 32 | عبدالودود پيمان | دولسي جرګي د پوهنی لوړو زده کړو دينی او فرهنګی چارو د کميسيون غړی | کندوز | هو | دقوانينود اصلاح په موخه پلټني او تالاش | د کميسيون دغړو په وړانديز او د ولسمشر په منظوری |
| 33 | ګل پادشاه مجيدی | دولسي جرګي د طبيعی زيرمو او چاپيريال ساتنی د کميسيون غړی | پکتيکا | هو | دقوانينود اصلاح په موخه پلټني او تالاش | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 34 | يونس قانونی | دولسي جرګي د تقنيني چارو کميسيون غړی | کابل | هو | دقوانينود اصلاح په موخه پلټني او تالاش | دملکي خدماتو دقانون پراساس |
| 35 | شريف الله کامه وال | د ولسی جرګی د وکيلانو د خونديتوب حقونو او امتيازاتو د کميسيون غړی | کابل | هو | د کميسيون د فعاليتونو نظارت | ولسمشر |
| 36 | سيد اسحق ګيلانی | دولسي جرګي د نړيوالو چارو د کميسيون غړی | پکتيکا | هو | بيلا بيلي لارې چارې | مطابق قانون خدمات ملکی |
| | آزماينتي مصاحبي | | | | | |
| 37 | محمد هاشم صميم | د ټاکنود کميسيون د دارلانشا مرستيال | | هو | | د کميسيون دغړو په وړانديز او د ولسمشر په منظوری |
| 83 | فريد حميدی | د افغانستان د بشری حقونو د کميسيون کميشنر | | هو | | د کميسيون دغړو په وړانديز او د ولسمشر په منظوری |
| 39 | پوهنيار احمد فهيم حکيم | د افغانستان د بشری حقونود کميسيون مرستيال | | هو | | دملکی خدماتو د قانون پراساس |
| 40 | خالد اوريا | د ټاکنود کميسيون د حقوقي چارو رييس | | هو | | د کميسيون دغړو په وړانديز او د ولسمشر په منظوری |

## پایلې:

په دغه سروې کې د زیاتره مرکه کوونکو له نظره معلومیږي چې هغوی د ټاکنو د څپلواک کمیسیون په اړه له روان وضعیت څخه خوښ نه دی.
هغوې په دی باور دې ، چې د ټاکنو کمیسیون دیوه خپلواک او باورې ارګان په حیث اړینه ده چې په هکله یې یولړ اصلاحات رامنځته شي.

زیاتو مرکه کوونکو په خپلوځرګندونو کي دیته اشاره کړی چې د شفافو ، ازادو او عادلانه ټاکنود ترسره کیدو لپاره اړینه ده چې ددغه کمیسیون په تشکیلاتي او عملیاتي برخو کي اصلاحات راوستل شي ترڅو د کمیسیون استقلالیت ورسره تضمین شي.
دغه راز د سروي ګډونوالو دټاکنو په کمیسیون کي دولسمشر د صلاحیت دمحدودولو غوښتنه کړی او په ځانګړی توګه یي په دی ټینګار کړی چي کمیسیون دی غیری سیاسي وی او دسیاسي لاسوهنو څخه دخوندیتوب لپاره بهتره داده چي د کمیسیون غړی غیری سیاسي وی.
د سروي ترمخه، زیاتره مرکه کوونکو غوښته کړی چي د کمیسیون غړی دی له ولسي جرګي څخه دباور رایه ترلاسه کړی، که څه هم دغه شرط ددې اندیښنه راپیدا کړی چي کیداې شي داخل دقانون دغه طرحه هم د تیرې طرحي په څیر د اساسي قانون سره په ټکر تفسیر شی او تیر په څیر دولسمشر لخوا رد شي، که څه هم مرکه کوونکي د ولسمشر لخوا دقانون د تیري طرحي ردول غیری قانوني کړنه بولي.

د سروي پراساس د مرکه کوونکو ترمنځ په ځینې مواردو کي اختلاف نظر هم لیدل کیږي، او په ځانګړی توګه د ټاکنود کمیسیون د کمیشنرانود څوکی ته دمدني ټولني لخوا شرایط لرونکو افرادو او وړ کسانو د معرفي کیدو په سر اختلاف نظر موجود دی ، او په دی اړه هغوې په دوو نظریاتو ویشل شوی دی، دغه راز د کمیټي د ترکیب او کاندیداتوری په اړه هم سره په ټکر کې دی او تقریبا په دی اړه دری عمده نظرونه ترسترګو کیږی.

د ترسره شوی سروي څخه لاسته راوړني په لاندنیوشپږو موضوعاتو باندي تمرکز کوي:
په کمیسیون کي داصلاحاتو درامنځته کیدو اړیتا، د کمیسیون اهمیت، د کمیسیون د غړیو قضایي مصونیت، دکمیسیون خپلواکی او شفافیت، د کمیسیون تشکیلاتي جوړښت، دکمیسیون درییس او سکرتیر ټاکنه او دغه راز د کمیسیون په چارو کي دولسمشر مداخله .
دمرکه کوونکو زیاتره برخه د ټاکنو دکمیسیون د تشکیل،دندو او واکونو د قانون په طرحه کي د اصلاحاتو غوښتونکي دي او په مطلق ډول ددې پلویان دي چي د ټاکنو چارې دی دیوه قانون له لارې تسجیل او تنظیم شی نه دیوه تقنینی فرمان په واسطه چي اوسمهال په هیواد کي نافذ دی. دغه راز غوڅ اکثریت په دی عقیده دی چي د ټاکنو دعملیاتو پرمهال د ټاکنو په طرزالعملونونو کي بدلون راوستل، د ټاکنو په پروسه کي ناوړه ګټې اخیستني ته لاره برابره وي.
په زیات شمیر کي مرکه کوونکي ، د ازادو او عادلانه ټاکنو په ترسره کولو د کمیسیون رول ډیر مهم بولي،او په ټولیزه توګه دغه وکیلانو د دکمیسیون دغړیو د عدلیي او قضایي تعقیب څخه د هغوې د مصونیت پلوي کړی او دغه کار یي د ټاکنود کمیسیون د خپلواکی لپاره مهم بللی دی.
د سروي د ګډونوالو د اکثریت نظریاتو ته په پام سره،د کمیسیون استقلالیت مهم ګڼل شوی او په دی برخه کي یي د کمیسیون خپلواکی ته د زیاتي توجه غوښتنه کړی ده، او زیاتره یي بیا د ټاکنو دکمیسیون دغړیو د ټاکني اثرات د کمیسیون د خپلواکی لپاره ډیره مهمه بولي.

د ټاکنو د کمیسیون دتشکیلاتو او دا چي د کمیسیون غړیو لپاره څه ډول شرایط په پام کي نیول پکار دی، زیاتره مرکه کوونکو په خپلو ځرګندونو کي ، لوړی زده کړی، تجربه، نیک شهرت، او په سیاسي ګوندونکي دنه غړیتوب له شرایطو څخه یادونه کړی ده او ټینګار یي کړی چي د کمیسیون د غړیود ټاکلو لپاره دی دغه شرایط په پام کي ونیول شی.
په دی اړه چي د ټاکنود کمیسیون رییس باید د کومې مرجع لخوا تعین او یا هم غزل شي، په دی هکله وکیلانو یوه خله نه وو، خو په زیات شمیر کي مرکه کوونکي په دی باور وو، چي د کمیسیون رییس دی دکمیسیون د غړیو لخوا وټاکل شي، او دعزل په اړه یي هم د کمیسیون پریکړه ټینګار کولو.

د ټاکنو د کمیسیون په چارو کې دولسمشر درول په اړه په غوڅ اکثریت سره یو نظر وجود نه درلود او د مرکه کوونکو 25 سلنه کسانو په دی باور وو چې د کمیسیون رییس دی د کمیسیون دغړیو په وړاندیز او دولسمشر لخوا غزل کړای شي.دغه راز 36 سلنه نورو بیا ویل چې د کمیسیون د وړاندیز پراساس ولسمشر کولاې شي د کمیسیون د دارالانشا رییس وټاکې.

د فیفا له سروي څخه لاسته راوړنو ته په پام سره دولسي جرګې له محترمو غړیو څخه تقاضا کیږي ، چې د ټاکنود کمیسیون دتشکیل،دندو او واکونو د قانون د طرحې مصوبه دی جدی ونیسي، او کله چې د دغه قانون په اړه بحث کیږي نو بهتره ده چې لومړی باید د ټاکنو کمیسیون او واکونه یې د قانوني په چوکاټ کې تعریف کړای شي.
دغه راز فیفا وړاندیز کوي، چې په یاده طرحه کې د تعدیل پرمهال دی د کمیسیون خپلواکی، د کمیسیون په چارو کې شفافیت او دکمیسیون دغړیو پرمسلکیتوب دی زیات تمرکز وکړی شی، او د دغه سروي د پایلو څخه کولاې شي چې دیوی غوره معلوماتي سرچینې په توګه کار واخیتسل شی، ترڅو دیوه ملي ، باورې، مستقل او غیری سیاسي کمیسیون په رامنځته کیدو کې په ښه توګه خپل ملي رسالت ترسره کړی.

## ضمایم

### په سروي کې د ګډونوالو نوملړ

| شمیره | نوم | اړونده اداره | ولایت |
|---|---|---|---|
| 1 | حمیده اکبری | په ولسي جرګه کی د مالیي او بودجي کمیسیون غړي | میدان وردک |
| 2 | قاضی نذیراحمد حنفی | په ولسي جرګه کي د تقنینی چارو دکمیسیون رییس | هرات |
| 3 | محمد عبده | په ولسي جرګه کي د عدلیي او قضایي کمیسیون منشی | بلخ |
| 4 | احمد بهزاد | د ولسي جرګه کي د تقنینی چارو د کمیسیون غړی | هرات |
| 5 | هاشم صمیم | د ټاکنو دکمیسیون ددارالانشاء د عملیاتي برخي مرستیال | کابل |
| 6 | خالد اوریا | د ټاکنو د کمیسیون د حقوقي څانګي مسوول | کابل |
| 7 | فهیم حکیم | د افغانستان دبشری حقونو دکمیسیون مرستیال | کابل |
| 8 | فرید حمیدی | د افغانستان د بشری حقونو د کمیسیون کمیشنر | کابل |
| 9 | څارنوالعبدالرووف | په ولسي جرګه کي دعدلیي او قضایي کمیسیون غړی | بدخشان |
| 10 | شینکی ذهینکړوخیل | په ولسي جرګه کي دمالیي او بودجي دکمیسیون غړي | کابل |
| 11 | عرفان الله عرفان | په ولسي جرګه کي دمواصلاتو او مخابراتو د کمیسیون غړی | کابل |
| 12 | قیس حسن | په ولسي جرګه کی دمواصلاتو او مخابراتو دکمیسیون رییس | کابل |
| 13 | صالح محمد صالح | په ولسي جرګه کي د کورنیو چارو او دملی امنیت دکمیسیون مرستیال | کنر |
| 14 | محمد نعیم لالی حمیدزی | په ولسي جرګه کی د کورنیو چارو او ملی امنیت د کمیسیون غړی | کندهار |
| 15 | حاجی سخی مشوانی | په ولسي جرګه کی د کورنیو چارو او ملی امنیت د کمیسیون غړی | کنر |
| 16 | نسیمه نیازی | دولسي جرګي دمواصلاتو او مخابراتو دکمیسیون غړي | هلمند |
| 17 | اسدالله سعادتی | دولسي جرګي د مرکزی دتفتیش د کمیسیون غړی | دایکندی |
| 18 | ربابه پروانی درویش | دولسي جرګي د ښځو چارو،مدني ټولني او بشری حقونو دکمیسیون غړي | کابل |
| 19 | فریدون مهمند | دولسي جرګي د وکیلانو دخوندیتوب او امتیازاتو د کمیسیون غړی | ننګرهار |
| 20 | عبدالحفیظ منصور | په ولسي جرګه کي د مرکزی تفتیش دکمیسیون رییس | کابل |
| 21 | حاجی محمد فرهاد صدیقی | د ولسي جرګي دمواصلاتو او مخابراتو دکمیسیون غړی | کابل |
| 22 | ناجیه بابکرخیل | دولسي جرګي د دیني او فرهنګی چارو، او لوړو زده کړو دکمیسیون غړي | پکتیکا |
| 23 | ګل پادشاه مجیدی | دولسي جرګي د طبیعی زیرمو او چاپیریال ساتنی دکمیسیون غړي | پکتیا |
| 24 | شاه ګل رضایی | دولسي جرګي د اخلاقی فساد او نشته یی توکیو سره مبارزې دکمیسیون غړي | غزنی |
| 25 | کبری مصطفوی | دولسي جرګي د معیوبینو او معلولینو د کمیسیون غړي | کابل |
| 26 | سید اسحاق ګیلانی | دولسي جرګي دنړیوالو چارو دکمیسیون غړی | پکتیکا |
| 27 | حاجی محمد نظیر | دولسي جرګي د کوچیانو قبایلو او بیځآیه شویو دکمیسیون | کوچی |

| شمیره | نوم | اړونده اداره | ولایت |
|---|---|---|---|
| | احمد زی | غړی | |
| 28 | عبدالودود پیمان | دولسي جرګي د ديني او فرهنګی چاراواو لوړو زده کړو د کمیسیون غړی | کندز |
| 29 | شریف الله کامه وال | په ولسي جرګه کي دوکیلانو دخوندیتوب حقونو او امتیازاتو کمیسیون رییس | کابل |
| 30 | یونس قانونی | دولسي جرګي د تقنین دکمیسیون غړی | کابل |
| 31 | شیخ نعمت الله غفاری | دولسي جرګي دویم مرستیال | هلمند |
| 32 | سید حسین عالمی بلخی | په ولسي جرګه کي دمعلولینو او معیوبینود کمیسیون رییس | کابل |
| 33 | سید علی کاظمی | دولسي جرګي د نړیوالو اړیکود کمیسیون غړی | کابل |
| 34 | سید محمد علی اخلاقی | د ولسي جرګي د معیوبینو او معلولینو د کمیسیون غړی | غزنی |
| 35 | سید محمد حسن شریفی بلخابی | د ولسی جرګی د عدلیي او قضایي چارو د کمیسیون غړی | سرپل |
| 36 | فوزیه ناصریار | دولسي جرګي د ملي اقتصاد د کمیسیون غړي | کابل |
| 37 | داکترنیلوفرابراهیمی | دولسي جرګي د روغیتا او ځوانانود کمیسیون غړي | بدخشان |
| 38 | غلام سرورفایز | دولسي جرګي د ښځود چاور ، مدني ټولني او بشری حقونو دکمیسیون منشی | بادغیس |
| 39 | چمن شاه اعتمادی | دولسي جرګي د نشه یی توکیو او اخلاقي فساد سره د مبارزې د کمیسیون غړی | غزنی |
| 40 | حمیرا ایوبی | دولسي جرګي د ديني فرهنګي چارو او د لوړو زده کړو د کمیسیون غړي | فراه |

## II ضمایم:

### پوښتنپانه

| د مرکه کوونکی پیژندنه : | | | |
|---|---|---|---|
| نوم: | | جنسیت: | |
| د تحصیل درجه: | | د تلیفون شمیره: | |
| دنده : | | د مرکچی نوم: | |
| نیټه: | / / | ساعت | : |
| د مرکي موضوع | | | |
| بریښنا لیک: | | | |

| شمیره | پوښتني | | | | | | هو | نه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | ایا د ټاکنو د کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو په اړه د قانون له هغې طرحې څخه خبریاست چې اوسمهال د ولسي جرګې په کمیسیونونو کې د بحث لاندې ده؟ | | | | | | هو | نه |
| 2 | د کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو کې د اصلاحاتو په اړه څه نظر لرئ؟ | | | | | | هو | نه |
| | ضروری | | غیر ضروری | | حتمی | | یو هم نه | |
| 3 | د شفافو ټاکنواو عادلانه ټاکنو په ترسره کیدو کې د ټاکنود اړونده نهادونو رول څومره مهم دئ؟ | | | | | | هو | نه |
| | کم | | متوسط | | زیات | | ډیرزیات | |
| 4 | تاسو د څه ډول کمیسیون پلویان یاست؟ | | | | | | هو | نه |
| | خپلواک او مسلکی | | بي طرف او غيري مسلكي | بی طرف اومسلکی | صرفمسلکی | | صرفبیطرف | |
| 5 | د ټاکنو د کمیسیون په پیاوړتیا او بي طرفي کې د مدني ټولني او سیاسي ګوندونو رول څه ډول ارزي؟ | | | | | | هو | نه |
| 6 | د کمیسیون د غړو مسلکیتوب د هغوی په کاري ظرفیت کې څومره رول لري؟ | | | | | | هو | نه |
| | کم | | متوسط | | زیات | | ډیر زیات | |

| شمیره | پوښتنې | هو | نه |
| --- | --- | --- | --- |
| 7 | ستا په اند د ټاکنو اداره کوونکي نهادونه خپل مشروعیت څه ډول ترلاسه کولاي شي؟ | هو | نه |
| | | | |
| 8 | ستاسو په اند د ټاکنو خپلواک کمیسیون خپل قانوني حیثیت له کومې لارې په باورې توګه پیدا کولاې شي | هو | نه |
| | قانون ☐ تقنيني فرمان ☐ طرزالعملونه ☐ شفاهی توصيه ☐ | | |
| 9 | پرته له لاندینیو مواردو څخه چې د ټاکنو د کمیسیون په خپلواکۍ کې رول لري ایا داسي نور څه هم شته چې دغه اصل پیاوړی کړی؟ | هو | نه |
| | 1. د ټاکنو د قانون د اصلاح په موخه پروګرامونه ترسره کول | هو | نه |
| | 2. د ټاکنود اصلاح په موخه ولسي جرګې او حکومت ته وړاندیزونه کول | هو | نه |
| | 3. د کمیشنرانو معرفی | هو | نه |
| | 4 مشاهده از کار کرد های کمیسیون د کمیسیونونو له کړنو څخه مشاهده کول | هو | نه |
| | 4. نور موارد توضیح کړی: | | |
| 10 | ایا د ټاکنو د کمیسیون د رییس او غړو د ټاکلو طریقه د کمیسیون په بې طرفې کې رول لري؟ | هو | نه |
| 11 | د کمیشنرانو بې طرفې په کوم حالت کې تامین کیداې شي؟ | هو | نه |
| | 1. د کمیشنرانو لپاره د شرایطو نه شتون او دولسمشر لخواد هغوې ټاکل | هو | نه |
| | 2. د کمیشنرانو د ټاکنې لپاره د شرایطو شتون او د ولسمشر لخوا د هغوې ټاکل | هو | نه |
| | 3. د ځانګړو شرایطو شتون او د مدني ټولنې ، علمي شوراګانو او اکاډمیکو نهادونو لخوا د هغوې معرفي کیدل او د ولسمشر له لورې په دنده ګمارل کیدل. | هو | نه |
| 12 | ستاسو په د ټاکنو د کمیسیون لپاره کم شرایط په پام کې نیول پکار دی؟ | هو | نه |
| | لوړې زده کړې ☐ تجربه او نیک شهرت ☐ په سیاسي ګوندونو کې د غړیتوب سابقه نه درلودل ☐ دریواړه ☐ | | |
| 13 | د ټاکنو د کمیسیون او غړیو د ټاکلو په هکله ستاسو وړاندیز څه شی دی؟ | هو | نه |
| | | | |

| شمیره | پوښتنې | هو | نه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| 14 | ستاسو په اند د ټاکنو د کمیسیون د رییس او غړیو د ټاکلو لپاره په لاندینیو مواردو کې کوم یو بهتره دی؟ | هو | نه |
| | 1. یواځې ولسمشر | هو | نه |
| | 2. د کمیسیون د غړیو لخوا وړاندیز او د ولسمشر په خوښه | هو | نه |
| | 3. د کمیسیون لخوا | هو | نه |
| | 4. د کمیسیون د غړو او ولسمشر د مشورې پراساس | هو | نه |
| 15 | ایا تاسو د دکمیسیون د رییس او مرستیال ټاکنه کې د ازادو مستقیمو او پټې رایې اچونې څخه ملاتړ کوئ؟ | هو | نه |
| 16 | لکه څرنګه چې تاسو خبریاست چې د عدلیې او قضایې کمیسیون لخوا په وړاندې شوی طرحه کې ددې قید لګول شوی چې د کمیسیون کمیشنران دی دیوشمیر نهادونو لخوا دغه پوست ته معرفي کړای شي تاسو په لاندینیو نهادونو کې د کوم نهاد څخه ملاتړ کوئ؟ | هو | نه |
| | 1. دولتی مدني ټولنې، علمي شورګانې او دولتي اکادمیک موسسات | هو | نه |
| | 2. دولتی دولتي او غیردولتي اکادمک نهادونه | هو | نه |
| | 3. سیاسي ګوندونه | هو | نه |
| | 4. دریواړه | هو | نه |
| 17 | ستاسو په اند د کمیسیون غړی په لاندینو ترکیبونو کې له کوم یو څخه قسم واخلي ترڅو دهغوی ځواب وینه پیاوړی کړی؟ | هو | نه |
| | یوارځې ولسمشر | هو | نه |
| | ولسمشر او قاضی القضات | هو | نه |
| | ولسمشر ، د ملي شورا رییسان او قاضی القضات | هو | نه |
| 18 | د کمیسیون د خپلواکی لپاره د عدلیې او قضایي تعقیب څخه د هغوی مصونیت څومره مهم دی؟ | هو | نه |

| کم | | متوسط | | زیات | | یوهم نه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|

دلیل یې وړاندی کړی :

| شمیره | پوښتني | هو | نه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| 19 | ستاپه اند د کمیشنرۍ د څوکۍ لپاره د شرایط لرونکو کسانو لپاره په دغه کمیټې ترکیب کې کوم یو یې مناسب او موثر دی؟ | هو | نه |
| | 27 تنه / 40 تنه / 100 تنه | | |
| 20 | تاسو د کمیسیون د معرفي شویو غړیو د ټاکلو لپاره په لاندینیو ترکیبونو کې له کوم یو څخه حمایت کوئ؟ | هو | نه |
| | 1. د سترې محکمې رییس،د اساسي قانون د تطبیق د څار کمیسیون، د بشرې حقونو خپلواک کمیسیون او د ښځو چارو وزارت. | هو | نه |
| | 2.د سترې محکمې رییس،د اساسي قانون د تطبیق د څار کمیسیون، د بشرې حقونو خپلواک کمیسیون ، د ښځو چارو وزارت او د سیاسي ګوندونو مشران | هو | نه |
| | 3 مدني ټولنه، سیاسي ګوندونه، علمي شوراګاني او دولتي تحصیلي نهادونه | هو | نه |
| 21 | ستا په اند د دارالانشا رییس باید د کومې مرجعې لخوا و ټاکل شي؟ | هو | نه |
| | 1. د ولسمشر لخوا | هو | نه |
| | 2. د کمسیيون په وړاندیز او د ولسمشر په منظورې | هو | نه |
| | 3. د کمیسیون د رییس په وړاندیز او د ولسمشر په تایید | هو | نه |
| | 4. د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ملکي خدمتونو پر اساس | هو | نه |
| 22 | ایا د ټاکنو د عملیاتو پرمهال د ټاکنو په طرزالعملونو کې بدلون راوستل په دغه پروسه کې دناوړې ګټې اخیستنې لامل کیداي شي ؟ | هو | نه |
| 23 | د ټاکنو د عملیاتو پرمهال د ټاکنو په طرزالعملونو کې بدلون راوستل د دغه پروسي په قانونمندی او شفافیت باندې څه تاثیرات لري؟ | هو | نه |
| | | | |
| 24 | ستا په اند د ټاکنو د کمیسیون رییس او مرستیال د نه وړتیا او یاهم د کمیسیون د پریکړو په پلې کیدو کې پاتې راتلو په صورت کې د کومې مرجعې د خوا څخه له دندې ګوښه کیداي شي؟ | هو | نه |
| | 1. ولسمشر | هو | نه |
| | 2. د کمسیون دغړیو د اکثریت یعنې د دوو ثلثو د پریکړې پراساس | هو | نه |
| | 3. د کمیسیون زیاتو غړو وړاندیز او دولسمشر دمنظورې پراساس | هو | نه |
| 25 | ایا مناسبه ده چې د قانون پراساس د کمیسیون غونډې په ډاګیزه توګه ترسره شي ترڅو مدني ټولنې، سیاسي ګوندونه او رسنۍ یې له پریکړو او تصمیمونو څخه خبر اوسې؟ | هو | نه |

| | | پوښتنې | |
|---|---|---|---|
| نه | هو | په تیر وخت کې د ولسي جرګې د قانون هغه مصوبه چې د سترې محکمې لخواپه دې دلیل رد شوه چې ګویا کې دغه طرحه د اساسي قانون سره په ټکر کې وه ایا دغه کار قانوني وو؟ | 26 |
| نه | هو | له څرنګه چې تاسو خبریاست د ټاکنو د کمیسیون د تشکیل ،دندو او واکونو د قانون مصوبه د سترې محکمې لخوا په دې دلیل لغوه شوه چې په هغې کې ویل شوی وو ، چې د ټاکنو د کمیسیون غړی به له ولسي جرګې څخه د باور رایه ترلاسه کوی. ستاسو په اند که چرته په دې هکله په نوی طرحه کې هم دغه شرط ذکر شي ددی ویره نشته چې دغه طرحه به هم د پخوانی طرحې له برخلیک سره مخ شی؟ دمهربانی له مخې خپل توضیحات او وړاندیزونه بیان کړی؟ | 27 |
| | | | |